د افغانستان دموکراتیک جمهوریت

د عدلیې وزارت

# رسمی جریده

## قانون آب

شماره بیستم ـ ۳۰ جدی سال ۱۳۶۰

نمبر مسلسل (۵۰۰)

# درین شماره

۱- قانون آب.
۲- مقرره استفاده ازآب درزراعت.
۳- مقرره تنظیم اجراآت و فعالیت های وزارت آب وبرق جمهوری دموکراتیک افغانستان.

مدیر مسوول : ع. غفار گرامی
مهتمم : نور علم
تلفون مدیر مسوول :۲٥٤۰۹
تلفون توزیع : ۲۱٦۰٤

# رسمی جریده

## دافغانستان د دمو کرا تیـــــك جمهو ریت دانقلابی شورا د رئیسه هیأت فرمان

## د اوبو د قانون د تصویب په‌هکله

دکابل ښار

د ۱۳۶۰ کال د قوس اتلسمه

دافغانستان د دمو کرا تیـــك جمهو ریت داساسی اصولو د (٤٤) مادی سره سم د افغانستان د دموـ کراتیك جمهو ریت دانقلابی شو را رئیسه هیئات په لاندی ډول تصوـ یب کوی :

۱ـ د اوبو قانون په اوو فصلو نو او (٤٤) مادو کی تصویبیږی .

۲ـ دافغانستان د دمو کرا تیـك جمهوریت د اوبـو او بـریښنا او د کرنی اود ځمکو اصلا حاتو وزار ـ تونوته لارښو ونـه کیـږی چـی د نوموړی قانون دقیق او بی انحرا فه پلی کول تامین کاندی .

۳ـ دافغانستان د دمو کرا تیـك جمهوریت د اوبو او بریښنا وزارت مکلف دی چی د اوبو د زیرمو دقیقه محاسبه ، له اوبو نه معقوله‌استفا ده او ویشس یی ، په هیواد کی د اوبو لگولو دپراختیا دکلنیواو پر مختیایی پلانونو طرح ، د اوبو د بیلا نسس طرح اود اوبو دساتنی او استفا دی مجتمع نقشی په کلکه کنتـــرو ل کاندی .

## فرمان هیأت رئیسه شورای‌انقلا بی جمهوری دمو کرا تیك افغانستـــان مبنی بر تصویب قانون آب

شهر کابل

۱۸قوس ۱۳۶۰

مطابق به ماده (٤٤) اصول‌اسا ـ سی جمهوری دمو کرا تیك افـغا ـ نستان هیئات رئیسه‌شورای انقلابی ذیلا تصویب میدارد :

۱ـ قانون آب در هفت فصـل و (٤٤) ماده تصویب میگردد .

۲ـ بـه وزارت های آب و برق و زراعت و اصلا حات ارضی‌جمهوـ ری دمو کرا تیك افغانستان هدایت داده میشود تا تطبیق د قیـق وبـلا انحراف قانون مذکور را تا میـــن نمایند .

۳ـ وزارت آب‌و برق جمهو ری دمو کرا تیك افغانستان مکلف‌است تامحاسبه دقیق ذخایر آب ، توزیع و استفاده معقول از آب، طرح‌پلان های سالانه و انکشافی تو سعـــه آبیاری در کشور طرح بیلا نس‌آب ونقشه های مجتمع استفاده و حفـظ آب راجدا کنترول نمایند .

# رسمی جریده

٤ـ دافغانستان د دمو کرا تیک جمهوریت دکرنی اود ځمکوداصلاحاتو وزارت دی له اوبونه داستفادی شرایط په کلکه تامین کاندی اود ځمکی داوبو لګولو دچارو د پراختیا او انکشاف او د اوبو دهغو استفاده کوو نکو د هڅولو په غرض لازم تدبیر ونه ونیسی چی په خپلو لګښتونو اوبو لګولو ته پراختیا ورکوی .

٥ـ دافغانستان د دمو کرا تیک جمهوریت د عامی رو غتیا وزارت مکلف دی چی د وګړو د اړتیا وړ د ښښلو او معیشتی اوبو کیفیت او همدغه راز د اوبو دزیرمو د ککړیدو د مخنیوی په غرض د لازمو تدبیرونو طرح او تطبیق په کلکه کنترول کاندی .

٦ ـ د دولتی قدرت او اداری سیمه ایز اور ګانونه مکلف دی چی د اوبو ویشس او ور نه‌معقوله استفاده کنترول او د اوبو له ککړو لونه دمخنیوی په غرض لازم تدبیرو نه ونیسی او د اوبود استفاده کوونکو تر منځ دلانجی د رامنځ ته کیدو په صورت کی هغه په‌عا دلانه‌اوسملاسی توګه دقانون د حکمو نو سره سم حل او فصل کاندی .

٧ـ د اوبو او بریښنا وزارت مکلف‌دی ترڅو هغه فورمی‌ترتیب اود منظوری دپاره یی مربوطو مرا-

٤ـ وزارت زراعت و اصلاحات ارضی جمهوری دمو کرا تیک افغانستان شرایط استفاده از آب راجدا تامین و جهت توسعه‌وانکشاف امور آبیاری زمین وتشویق‌استفاده کنندگان آب که با مصارف خود آبیاری را توسعه میدهند تدابیر لازم اتخاذ نماید .

٥ـ وزارت صحت عامه جمهوری دمو کرا تیک افغانستان مکلف است تاکیفیت آب آشامیدنی و معیشتی مورد ضرورت اهالی را وهمچنان طرح و تطبیق تدابیر لازم را جهت جلو گیری از آلودگی منابع آب جدا کنترول نماید .

٦ـ ارگان های محلی قدرت دولتی واداره مکلفند تاتوزیع واستفاده معقول از آب راکنترول و تدابیر لازم را جهت جلو گیری‌از آلوده ساختن آب اتخاذ و در صورت بروز اختلاف بین استفاده کنندگان آب آن را طور عادلانه و عاجل مطابق احکام قانون حل و فصل نمایند .

٧ـ وزارت آب و برق مکلف‌است تافورمه هاییرا که مطابق به آن‌توزیع آب‌و محاسبه استفاده‌آن صورت

جعو ته پیشنهاد کاندی چی د هغو له مخي د اوبو ویش او ورنــــه د استفادی محاسبه صورت مومی .

٨ـ دافغانستان د دمو کرا تیــک جمهو ریت د اوبو او بریښنا ا ود کرنی اود ځمکو د اصلا حاتو وزارـ تونو تهوظیفه ور کول کیږی چی د افغانستان د دمو کرا تیکجمهوریت دعدلیی دوزارت په موا فقه له نومو ـ ړی قانون نه را پیدا شوی مقررا ت طرح اود تل په شان یی د تصویبد پاره صالحه مقاماتو ته پیشنهـــاد کاندی .

**ببرك كارمل**

**دافغانستان د دموكرا تيكجمهوريت**

**دانقلابی شورا د رئيسه هيئاتصدر**

میگیرد تــرتیب و جهــت منظوری بمراجع مربوطه پیشنهاد نماید .

٨ ـ وزارت های‌آب وبرق‌وزراعت و اصلا حات ارضی جمهو ری‌دمو ـ کراتیك افغانستان موظف میگرد ند تابه موافقه وزارت عدلیه جمهو ری دمو کراتیك افغانستان مقــر رات ناشی از قانون مذکور را طـــرح و جهت تصویب بر حسب معمو ل به مقامات صالحه پیشنهاد نمایند .

**ببرك كار مل**

**صدر هیئات رئيسه شورای‌انقلا بی**

**جمهوری دمو کرا تیك افغانستان**

بسم الله الرحمن الرحیم

## د اوبو قانون

## لومړی فصل

## عمومي حکمونه

### لومړی ماده :

دغه قانون دافغانستان د دموکراتیك جمهو ریت داساسي اصولو دمندرجو ارزښتو نو پر اساس او داوبو دعادلانه ویشش او ورنه د اغیزمنی استفادی په منظور اود وګړو او ملی اقتصاد د اړتیا وو د لیری کولو ، د اوبو دمنابعو دسا تنی او ورنه دمعقولی استفادی اود اوبو داستفاده کوو نکو د حقوقود ساتنی په‌منظور وضع شوی‌دی.

### دوهمه ماده :

اوبه په خلکو پوری تعلق لری‌او ددولت له خوا یی ساتنه کیږی .

### دریمه ماده :

د اوبو منابع عبارت دی له :

۱ــ سیندونه ، نهرو نه ، ویالی، کانالونه ، جبه زار ونه ، زیمو نه (زاهبرو نه) ، زیرمی اود ځمکی پر مخ د اوبو نوری زیرمی .

۲ــ د چینو ، کار یزونو او څاګانو اوبه او ترځمکی لاندی د او بو نوری زیرمی .

۳ــ کنګلو نه (یخبندو نه)

## قانون آب

## فصل اول

## احکام عمومی

### ماده اول :

این قانون بر اساس ار زشــــ های مندرج اصول اساسی جمهوری دمو کرا تیك افغانستان و بــه منظور توزیع عادلانه‌و استفاده موثر ازآب جهت رفع نیاز مندی هـــای اهالی و اقتصاد ملی ، حفظ منابع‌و استفاده معقول از منابع آب و حفظ حقوق استفاده کننده گان آب وضع گردیده است .

### ماده دوم:

آب به مردم تعلق داشته ازطرف دولت حفظ میگردد .

### ماده سوم :

منابع آب عبارت‌است از :

۱ــدریا ها ، انها ر ،جوی ها ، کانال ها ، جبه زار ها ، زابر ها ، مخازن وسایر ذخایر آب های روی زمین.

۲ ــ آب های چشمه سار هـــا ، کاریز ها، چاه هاوسایر ذخایر آ ب های تحت الارضی .

۳ــ یخبند ها .

**څلورمه ماده :**

د اوبو منابع د افغانستان دده‌مو- کراتيك جمهو ريت د تصديـــو ، د دولتي ، مختلطو او خصو صي ادارو او موسسو ، کوپرا تيفونو ، ټو - لنيزو ساز مانونو اووګړو داستفادې وړ ګرزيد لای شي .

**پنځمه ماده :**

د اوبو له منابعو نه د دغه‌قانون دحکمو نو سره سمه او د ملي او تا- ريخي دو دونو په پام کې نيولوسره د څښلو او معيشتي اوبو ته دااړتياوو او د وګړو د نورو اړتيا وو دليری کولو دپاره اود کرنې ، صنعت،عامه خدمتونو ، انرژی ، تراز سپورت او داسې نورو دااړتيا وو دليری کولود پاره ، استفاده کيدلای شي .

**شپږمه ماده :**

له اوبو نه استفاده په وړيا توګه صورت مومي.

**اومه ماده :**

د اوبو لګولو د سيستمو نو تا - سيسات ، کاريز ونه ، څاګانـــــې ، واټر پمپونه او د اوبونور تاسيسات دولتي ، کوپرا تيفي او خصو صي

**ماده چهارم :**

منابع آب مورد استفاده تصديها ادارات و موسسات دولتی ، مختلط و خصوصی ، کوپرا تيف ها ،ساز- مانهای اجتماعی‌واتباع جمهوری‌دمو- کراتيك افغانستان قرار گر فتـــه ميتواند .

**ماده پنجم :**

از منابع آب مطابق به‌احکام اين قانون و بارعايت عنعنات ملی و تا- ريخی جهت رفع احتيا جات به آب آشا ميدنی ، معيشتی و ديگراحتيا- جات اهالی و جهت رفع نياز مند ی های زراعت ، صنعت ، خدمات عامه انرژی ، ترانسپورت و غيره‌استفاده شده ميتواند .

در استفاده از منابع آب حـــق اوليت به آب آشا ميدنی و معيشتی مردم داده ميشود .

**ماده ششم :**

استفاده از آب طور مجانی‌صـو - رت ميگيرد .

**ماده هفتم :**

تاسيسات سيستم های ابيار ی کاريز ها، چاه ها ،نلهای آب ،واټر- پمپ هاو ديگر تاسيســـات آب ، ملکيت دولتی ،کوپرا تيفی وخصو-

ملکیت کیدلای شی او پیرو دل ، پلورل او کرایه یی‌مجاز ده .

**اتمه ماده :**

د اوبو د سیستمو نو دتاسیساتو خاوندان کولای شی چی د خپلو تاسیساتو دساتنی او څارنی دپاره یوه اندازه پیسی د اوبو له استفاده کوونکو نه واخلی . د دغو پیسو اندازه د شرایطو اود سیمې‌د دود په‌پام کی نیولو سره د خاوندانو او استفاده کوونکو په هوا فقه چی د دولتی قدرت او اداری دسیمه ایز اور گان له خو تائید شوی وی ، ټاکل کیږی .

د تاسیساتو ترمیمات او پاکول داستفاده کوو نکو په ګډون دنو موږو پیسو د کمښت په بدل کی‌په داسی توګه چی په دغه ماده کی یی څرګند ونه شوی‌ده ، صورت مومی .

**نهمه ماده :**

د اوبو داستفاده کوو نکو حقوق دقانون په واسطه ساتل کیږی . که چیری د اوبو د استفاده کوو نکی حق ضایع او یا ور ته زیان‌پیښ شی ، د قانون د حکم سره سم د جبران وړ دی .

صی شده میتواند و خرید وفروش وکرایه آن مجاز است .

**ماده هشتم :**

مالکین تاسیسات سیستم‌های‌آب‌می توانند جهت حفظ و مرا قبت تاسیسات خود مبلغی را از استفاده کنندگان آب اخذنمایند اندازه این مبلغ بادر نظر داشت شرایط وعرف محل با موافقه مالکین و استفا ده کنند گان که بتائید اور گان محلی قدرت دولتی و اداره رسیده باشد تعیین میگردد .

ترمیمات و پاک کاری تاسیسات با اشتراک استفاده کنندگان آب در بدل کاهش مبلغ مذکور بنحویکه در این ماده تصریح گردیده است صورت می گیرد .

**ماده نهم :**

حقوق استفاده کنندگان آب‌تو سط قانون حفظ میگردد . هر گاه حق استفاده کننده آب ضایع یابان ضرر عاید گردد مطابق به حکم قانون قابل جبران میباشد .

## دوهم فصل

## د اوبو له منابعو نه د استفادې د چارو تنظیم

### لسمه ماده :

د اوبو د زیرمو محاسبه ، په هیواد کې د اوبو لګولو د پراختیا د کلنیو او پر مختیایي پلانونو طرح ، د استفاده کوونکو تر منځ د اوبو دویشس د پلانونو ترتیب ، د اوبو د بیلانس او د اوبو د منابعو د استفادې او ساتنې د مجتمع نقشو طرح ، د اوبو دویشس او ورنه د معقولې استفادې کنترول د افغانستان د دموکراتیک جمهوریت د اوبو او بریښنا د وزارت په واسطه صورت مومي .

### یوو لسمه ماده :

د اوبو او بریښنا وزارت د اړتیا په صورت کې د اوبو د استفاده کوونکو سره د مرستې په منظور د قانون د حکمونو سره سم د اوبو رسولو د تاسیساتو او د اوبو لګولو د سیستمونو د ودانونو لو، اصلاح او ترمیم په غرض په ولایتونو کې د اوبو لګولو د سیستم د تنظیم اداری او د اوبو رسولو د تاسیساتو د ساختمان او ترمیم اداری جوړوي او په تخنیکي ضروري وسایلو سره یې سمبالوي .

## فصل دوم

## تنظیم امور استفاده از منابع آب

### ماده دهم :

محاسبه ذخایر آب ، طرح پلانهای سالانه و انکشافی توسعه آبیاری در کشور ، ترتیب پلانهای تقسیم آب در بین استفاده کنندگان ، طرح بیلانس آب و نقشه های مجتمع استفاده و حفاظت منابع آب، کنترول توزیع و استفاده معقول از آب توسط وزارت آب و برق جمهوری دموکراتیک افغانستان صورت میگیرد .

### ماده یازدهم :

وزارت آب و برق در صورت ضرورت به منظور مساعدت به استفاده کنندگان آب طبق احکام قانون در ولایات ادارات تنظیم سیستم آبیاری وادارات ساختمان و ترمیم تاسیسات آبرسانی را جهت اعمار ، اصلاح وترمیم سیستم های آبیاری وتاسیسات آبرسانی ایجاد و آن را با وسایل تخنیکی ضروری تجهیز میکند .

# رسمی جریده

د ځمکی په هکله دانقلابی شورا داتمی گڼی فرمان داومی مادی سره سم، داوبو لگولو د سیستم د تاسیساتود اصلاحاتو او ترمیماتو لگښتونه د قرار داد پر مبنا د کرنی د پراختیا دبانك دپور له لاری د بزگرانو یا کوپرا تیف د غوښتنی پر اساس په مساعدو شرایطو ورکولی کیږی.

**دولسمه ماده :**

د اوبو لگولو د دولتی سیستمونو د تاسیساتو د چارو تنظیم د اوبو او بریښنا د وزارت په غاړه دی .

د اوبو لگولو د هغو سیستمونو دتاسیساتو چاری چی د ساتنی او څارنی لگښتونه یی دبزگرانو ، کوپرا تیفونو اود بزگرانو د اتحادیو په غاړه دی ، د بزگرانو د هغو کمیټو په واسطه تنظیمیږی چی د بزگرانو د عمومی غونډی له خوا انتخاب او په سر کی یی میراب باشی یا میراب ځای لری .

**دیارلسمه ماده :**

کسبگران ، سوداگران ، صنعتی اود عامه خدمتونو موسسی اونوری موسسی او اداری د اوبو له منابعو نه د اوبو او بریښنا د وزارت د اور گانونو داجازه لیك پر اساس چی په هغه کی له اوبونه داستفادی

مطابق به ماده هفتم فرمان شماره هشتم شورای انقلابی درباره زمین ، مصارف اصلاحات وترمیمات تاسیسات سیستم آبیاری برمبنای قرار دادازطریق قرضه بانك انکشاف زراعتی بر اساس در خواست دهاقین یاکوپرا تیف به شرایط مساعد پرداخته میشود .

**ماده دوازدهم :**

تنظیم امور تاسیسات سیستم های آبیاری دو لتی بدوش وزارت آب وبرق میباشد .

امور تاسیسات سیستم های آبیاری که مصارف حفظ و مراقبت آن بدوش دهاقین ، کوپرا تیف ها واتحادیه های دهاقین میباشد توسط کمیته های دهاقین که از طرف مجلس عمومی دهاقین انتخاب و در راس آن میراب باشی یا میراب قرار دارد تنظیم میگردد .

**ماده سیزد هم :**

کسبه کاران ، تاجران ،موسسات صنعتی ،خدمات عامه وسایرموسسات و ادارات از منابع آب به اساس اجازه نامه اور گانهای وزارت آب وبرق که در آن اهداف و شرایط

دهدفونو او شرایطو خرگند ونــه شوی ده ، استفاده کوی .

له اوبو نه د هغو هدفونو دپاره استفاده چی په نوموړی اجازه لیـک کیږی یادونه نه‌وی شوی ،ممنوع‌ده.

**خوار لسمه ماده :**

داوبو د عادلانه او معقول ویشس په مقصد ، میراب باشی ، میرا بان او له اوبونه داستفاده کوو نکو نور استازی د اړتیا وړ اوبو په هکلــه خپل غوښتنې لیکو نه اود اوبــو د لګښت راپور په مربوطه سیمه کی د اوبو او بـریښنا د وزارت او رګاـ نونو ته دمنظور و شویو فورمو سره سم وړاندی کوی .

**پنځلسمه ماده :**

په ټول هیواد کی‌د اوبو دمنابعو دسیندونو د غاړو ، د اوبو دزیر می دمخزنونو او دعمومی کانالو نو پـه څنګ ک ی‌د ساختمانونو اوتاسیساتو طرح ، ډیزا ین او ودانول او همدغه راز د واټر پمپو نونــه د استفادی‌د پاره د څاګانو او ژورو څاګانو کیندل یوازی د اوبو او بـریښنا د وزارت په موافقه صورت موند لای شی .

دڅښلو او معشیتی اوبو د اړتیا وو دلیری کولو په مقصد د څا ګانو کیندل. په‌دغه حکم کی شامل‌نه‌دی.

استفاده از آب تذکر یافته اســت استفاده مینمایند .

استفاده از آب برای اهدا فی‌که در اجازه نامه مذکور از آن تذکربه عمل نیامده باشد ممنوع است .

**ماده چهاردهم :**

به مقصد توزیع عادلانه و معقول آب میراب باشی ، میراب ها و دیگر نمایندگان استفاده کنندگان آب در خواست های خود را در بـــاره آب مورد ضرورت و راپور مصرف آ ب رابه اور گانهای وزارت آب و برق در محل مربوط طبق فور مــــــه منظور شده تقدیم میکنند .

**ماده پانزد هم :**

طرح ، دیزاین و اعمار ساختمان هاو تاسیسات در جوار منابع آب، ساحل دریا ها ، مخازن ذخیره آب وکانال های عمومی وهمچنان حفـر چاهای عمیق و چاه هاباستفاده‌واـ ترپمپ هادر تمام کشور صرف به اساس موافقه وزارت آب وبر ق صورت گرفته میتواند .

حفر چاه ها جهت رفع نیاز مندـ یهای آب آشا میدنی و معیشتـــــی شامل این حکم نمیباشد .

**شپاړسمه ماده :**

دوچکالی یاد اوبو په منابعو کی د عوار ضو د راپیدا کیدو یاد نورو هغو فوق العاده حالاتو په وخت کی چی د اوبو په کمښت منتج شی ، د اوبو او برښنا وزار ت کولای شی چی ددولتی قدرت او اداری دسیمه ایزو اور گانونو په موافقه له اوبو نه استفاده محدوده کاندی ، په دی شرط چی د څښلو د اوبو تامین زیانمن نشی .

## دریم فصل

## په کرنه کی له اوبو نه استفاده

**اولسمه ماده :**

دځمکی په هکله دانقلابی شو را داتمی گڼی فرمان د شپږمی مادی سره سم ، د اوبو او بریښنا او د کرنی اود ځمکو د اصلا حاتو وزارتونه له ټولو منابعونه د اوبو د کلنی عادی بهیر ظرفیت تثبیتو ی اودهغه سره سم د ځمکی د هر جریب کلنی حق ابه په عادلانه توگه تعیین او ویشل کیږی .

**اتلسمه ماده :**

داوبو لگولو د اړتیا و ړاو به د ځمکی درسمی سند پر اساس او د هغی حق ابی په موجب چی د باور وړ سندونو په واسطه تایید شو ی وی د سیمی ددودونو او عرف په پام کی نیولو سره ویشل کیږی .

**ماده شانزدهم :**

هنگام خشک سالی یا بروزعوارض در منابع آب و یاسایر حالا ت فوق العاده که منتج به قلت آب گردد وزارت آب وبرق میتواند با موافقه اور گانهای محلی قدرت دولتی و اداره استفاده ازآب رامحدود سازد مشروط بر اینکه تامین آ ب آشامیدنی متضرر نگردد .

## فصل سوم

## استفاده از آب در زراعت

**ماده هفدهم :**

مطابق به ماده ششم فرمان شماره هشتم شورای انقلا بی د ر باره زمین ، وزارت های آب و برق وزارعت و اصلا حات ارضی ظرفیت جریان عادی سالانه آب را از تمام منابع آب تثبیت میکند و مطابق به آن حق ابه سالانه هرجریب زمین عادلانه تعیین و توزیع میگردد .

**ماده هجدهم :**

آب مورد ضرور ت آبیار ی به اساس سند رسمی زمین و بموجب حق ابه که توسط اسناد معتبر تائید شده باشد بادر نظر داشت عنعنات وعرف محل توزیع میگردد .

**نولسمه ماده :**

داوبو لگولو په دولتی‌سیستمونو کی او به د اوبو لگولو دسیستم د تنظیم د اداری په واسطه داوبواو برښنا او دکرنی اودځمکو داصلاحاتو د وزارتونو د منظور شوی پلان پر اساس ویشل کیږی .

**شلمه ماده :**

د اوبو لگولو په هغو سیستمونو کی چی د ساتنی او څارنی لگښتونه یی د بزگرانو ، کوپرا تیفو نو او د بزگرانو د اتحاد یو په غاړه وی.اوبه دبزگرانو دهغو کمیتو په واسطه چی په سر کی‌یی میراب باشی یا میراب ځای لری دهغه وارپر اساس ویشل کیږی چی دا و بود استفاده کوونکو د عمومی غونډ ی په واسطه منظور شوی وی .

**یوو یشتمه ماده :**

میراب باشی یا میراب د اوبو داستفاده کو ونکو په حقوقو او د اوبو په ویشس پوری د ټولو مسئلو په‌حل او فصل کی د اوبو داستفاده کوونکو استازی دی .

میراب او میراب باشی په تخنیکی مسایلو کی د اوبو او بریښنا اود کرنی او دځمکو داصلاحاتو دوزارتونو سره په سیمو کی مرسته‌کوی او له خپلو اجراتونه داوبو داستفاده

**ماده نوز دهم :**

آب در سیستم های آبیا ری دولتی توسط اداره تنظیم سیستم آبیار ی باساس پلان منظور شده وزارت های آب و برق و زرا عت و اصلا حات ارضی توزیع میگردد .

**ماده بیستم:**

آب در سیستم های آبیار ی که مصارف حفظ و مرا قبت آن بدو ش دهاقین ، کوپرا تیفها و اتحادیه‌های دهاقین میباشد توسط کمیته ها ی دهاقین که در راس.آن میراب‌باشی یا میراب قرار دارد بر اساس نوبت که توسط جلسه عمومی استفا ده کنندگان آب منظور شده باشدتو ـ زیع میگردد .

**ماده بیست ویکم :**

میراب باشی یا میراب درحل‌و فصل کلیه مسایل مربوط به حقوق استفاده کنندگان آب و توزیع آ ب نماینده استفاده کنندگان آب مـی باشد .

میراب و میراب باشی در مسایل تخنیکی باوور گانهای وزارت آب و برق ووزارت زراعت و اصلا حا ت ارضی در محلات مساعدت میکنند و از اجرا آ ت خود در جلسه‌عمومی

کوونکو په عمومي غونډه کې راپور ورکوي .

**دوه ویشتمه ماده :**

د میراب باشي او میراب حق – الزحمه داوبو داستفاده کوو نکو له خواورکولی کیږي.

که چیرې میراب باشي او میراب خپلې دندې په ریښتینو لې سره سرته ورسوي اود اوبو لګولو په چاروکې داوبو او بریښنا دوزارت سره په فعاله توګه مرسته وکړ ی داوبو او بریښنا د وزارت له خوا د تقدیر وړ ګرزي .

**درویشتمه ماده :**

د اوبو داستفاد ەکوو نکو بزګر– انو دکمیټې غونډه له اوبونه په استفادې پورې د مربوطو مسئلو دحله ایز حل او فصل دپاره د اړ – نیا سره سمه د میراب باشي او میراب له خوا په میاشت کې لږ تر لږه یو ځلې جوړ یږي .

**څلرو یشتمه ماده :**

د اوبو لګولو د سیستمو نو د اوبو د استفاده کوو نکو عمو مي غونډه له اوبو نه په استفادې پور ي دمربوطو عمده مسئلو د حل او فصل دپاره، دمیراب باشي او میراب له خوا په کال کې لږ تر لږه دوه ځلې جوړیږي .

استفاده کننده گا ن آب گزارش میدهند .

**ماده بیستو دوم :**

حق الز حمه میراب باشی ومیراب ازطرف استفاده کنندگان آب پرداخته میشود .

هر گاه میراب باشی و میراب وظایف خویشش را صادقانه انجا م داده در امور آبیاری با وزار ت آب وبرق فعالانه مساعدت نمایند از طرف وزارت آب وبرق مورد تقدیر واقع میگردند .

**ماده بیست و سوم :**

جلسه کمیته دها قین استفا ده کنندگان آب جهت حل و فصل دسته جمعی مسایل مربوط به استفاده از آب طبق ضرورت از طرف میرا ب باشی و میراب حداقل یکبار در ماه دایر میگردد .

**ماده بیست و چهار م :**

جلسه عمو می استفا ده کنندگان آب سیستم های آبیار ی جهت حل و فصل مسایل عمده مربوط به استفاده از آب ، از طرف میرا ب باشی و میراب حد اقل دوباردرسال دایر میگردد .

عمومی غونډه د دولتی قدرت او اداری دسیمه ایز ارګان داستازی په ګډون لاندینی مسئلی حل اوفصل کوی :

۱ـ دټاکلی مودی دپاره د میراب باشی، میرابانو او داوبو د استفادی کوونکو بزګرانو د کمیټی د غړو انتخاب .

۲ـ دمیراب باشی او میراب دحق الزحمی تثبیت.

۳ـ د اوبو لګولو په موسم کی د استفاده کوونکو تر منځ د اوبو د ویشنی په هکله د میراب باشی یا میراب د پیشنهادونو څیړنه او تصدیق .

٤ـ د اوبو لګولو د سیستمو نو دپاکولو ،ترمیم او اصلاح پههکله د ډله ایز کار د ډولونو ، د اجراد مودی اود اوبو داستفاده کوو نکو دهریوه دکار دحجم تثبیت .

۵ـ د اوبو لګولو د سیستمو نو اود اوبو رسولو دتاسیساتو د ودانولو ،اصلاح او ترمیم پههکلهدترمیم او ساختمان دموسسو سره دتړونو تصدیق .

٦ـ د اوبو لګولو د سیستمو نو داصلاح او ترمیم دپاره د کرنی د پراختیا له بانك نه د کریدتاخیستلو دغوښتنی تصدیق.

۷ـ داوبو دویش ، دکرنی دپراختیا لهبانك نه د اخیستلی شوی

جلسه عمومی باشتراك نماینده اورګان محلی قدرت دولتی وادا ره مسایل ذیل را حل و فصلمیکنند :

۱ـ انتخاب میراب باشی، میراب هاو اعضای کمیته دهاقین استفا ده کنندګان آب برای مدت معین .

۲ـ تثبیت حق‌الز حمه میرابباشی و میراب .

۳ـ بررسیو تصدیق پیشنهاد ـ ات میراب باشی یا میراب مبنی بر توزیع آب در بین استفادهکننده ګان در فصل آبیار ی .

٤ـ تثبیت انواع کار دستهجمعی مبنی برپاك کاری ، ترمیم واصلا ح سیستم های آبیار ی ، مدت اجرا وحجم کار هر یك ازاستفادهکنندګان آب.

۵ـ تصدیق قرارداد هاباموسسات ترمیم وساختمان مبنی بر ا عمار، اصلاح و ترمیم سیستم های آبیاری و تاسیسات آبرسانی .

٦ـ تصدیق در خواست اخذ کریدت از بانك انکشاف زرا عتی جهت اصلاح و ترمیم سیستم ها ی آبیاری .

۷ـ استماع ګزار شات میرا ب باشی یا میراب از اجرا آت مبنی بر

کریدت د لگښت او د اوبو لګو لو په سیستم کی د ډله ایز کار دنتایجو د اجرا آتو په هکله دمیراب باشی یا میراب د راپور ونو او ریدل .

۸ـ دنورو هغو مسئلو څیړنه چی د ډله ایز حل او فصل وړدی.

**پنځه ویشتمه ماده :**

دولت ، د اوبو لګولـــو وده او پراختیا چی د اوبو د استفاده کوو- نکو په لګښت صورت ومومـــی ، هڅوی او په دغه منظور :

هغه کوپرا تیفو نه او بزګرا ن چی په خپل لګښت د اوبو لګو لـو تاسیسا ت ودان او خپلی للمی ځمکی دهغو له لیاری او بهکاندی دپنځلسو کلونو په اوږ دو کیدنومو ړی ځمکی لهساحی نه د للمی ځمکی دمالیاتو سره سمه، د ځمکی مالیه ور کوی دغه موده داوبو لګولو له لومړی کال څخه حسا بیږی .

په آ بـــی ځمکی بـا نـدی دللمی ځمکی دبدلون په صورت کی لهکوپرا تیفو نو او بزګرانو څخـه اضافه جریبی ځمکی نه اخیستل کیږی

**خلورم فصل**

**په غیر زراعتی چارو کی له اوبو نه استفاده**

**شپږ ویشتمه ماده :**

د څښلو او معیشتی اوبه پوازی لههغو منابعو څخه تامینیږی چی د

توزیع آب ، مصرف کریدتی که از بانك انکشاف زراعتی اخذ گردیده و از نتایج کار دسته جمعی در سیستم های آبیاری .

۸ـ بررسی سایر مسایلیکه قابل حل و فصل دسته جمعی میباشد .

**ماده بیست و پنجم :**

دولت رشدو انکشاف آبیار ی را کهبمصرف استفاده کنندگـــان آب صورت گیرد، تشو یق می کند وبه این منظور :

کوپرا تیف هاو دهاقین که بـه مصرف خود تاسیسات آبیار ی را اعمار و زمین های للمی خود را از آنطریق آبیار ی نمایند در طو ل پانزده سال از ساحه زمین مذ کور طبق مالیات زمین للمی ، مالیه زمین را میپر دازند . این مدت از سال اول آبیاری حساب میگردد .

در صورت تبدیل زمین للمی به آبی زمین های اضافه جریبی ازکو- پرا تیف هاو دهاقین اخذ نمیگردد .

**فصل چهارم**

**استفاده از آب در امور غیـــر زراعتی**

**ماده بیست و ششم :**

آب آشا میدنی و معیشتی صرف از همان منابع تامین میگردد کـــه

اوبو کیفیت یې د هغو صحي معيار ونو سره سم وي کوم چې د عامې روغتیا د وزارت له خوا تثبیتیږي .

## اوه ویشتمه ماده :

هغه موسسي او اداري چې د څښلو او معیشتي اوبه د متمرکز اوبو رسولو له لیاري وګړو ته ورکوي ، مکلفي دي چې د اوبو رسولو دمنابعو داوبو له کیفیت نه په پرله پسي توګه څارنه وکړي او د تثبیت شویو نورمونو سره د اوبو دکیفیت د منفي توپیر په صورت کې په بیړني ډول د روغتیا ساتنې اور ګانونو ، د دولتي قدرت او اداري سیمه ایزو اور ګانونو او داوبو او بریښنا دوزارت اور ګانونو ته خبر ورکړي .

## اته ویشتمه ماده :

هغه استفاده کوونکي چې د اوبو له منابعو نه دصنعتي تولیداتو په مقصد استفاده کوي مکلف دي چې داوبو دلګښت تثبیت شوي پلان او نورم او مربوط مقررات په پام کې ونیسي .

## نه ویشتمه ماده :

داوبو له هغومنابعو نه چې دانرژی دتولید په منظور تر استفادې لاندې نیول کیږي ،دکرنې ، صنعت ،عامه خدمتونو ، ترانسپورټ اود وګړو داړتیا وودلیرې کولو په چارو کې

کیفیت آب آنها مطابق به معیارهای صحی ایکه ا زطرف وزارت صحت عامه تثبیت میگردد ، باشد .

## ماده بیست و هفتم :

موسسات و ادارات ایکه آب آشا میدنی و معیشتی را از طریق آب رسانی متمرکز بدسترس اهالی قرار میدهند مکلفند از کیفیت آ ب منابع آبرسانی طور متداوم مراقبت نموده در صورت تغییر منفی کیفیت آب نظر به نورم های تثبیت شده طور فوری به او رگانهای حفظ الصحه اور گانها ی محلی قدر ت دولتی واداره واور گانهای وزار ت آب و برق اطلاع بدهند .

## ماده بیست و هشتم :

استفاده کنند گانی که از منابع آب به مقصد تو لیدات صنعتی استفاده مینمایند مکلفند پلان و نورم تثبیت شده مصر ف آب و مقررات مربوط را مرا عا ت نمایند .

## ماده بیست ونهم :

از منابع آب که بمنظور تو لید انرژی مورد استفاده قرار داده می شود در امور زراعت ، صنعت ، خدمات عامه ، ترانسپور ت و رفع

په عراړخيزه توګه استفاده کيدلای شي .

**دیرشمه ماده :**

سيندونه ، کانالونه اود او بـو نور هغه منابع چې د حمل او نقـل اود بيړي چلولو د پاره مساعد وي داوبو د لیارو په ګټې اخیستنـــي پوری دمربوطو مقررا تو په پام کي نیولو سره تراستفادي لاندې نیول کيدلای شي .

**یو دیرشمه ماده :**

داوبو لهٔلياری د لرګيو انتقا ل داوبو او بريښنا دوزارت د اجـازه ليك پر اساس د مربو طو مقرر اتو پهٔپام کي نیولو سره صورت نومي .

**دوه دیرشمه ماده :**

داطفا ئيي داړتیا وړ اوبه داوبو لهٔټولو منابعو څخه د اجازی لــــه اخيستلو پرته په کافي اندازه تامين کيدلای شي .

**پنځم فصل**

**د اوبو دمنابعو ساتنه**

**دری دیرشمه ماده :**

داوبو دمنابعو له ککړ يدو نه د مخنیوی په منظور ، د اوبو او بر ـ يښنا وزارت دعامې روغتيا اودکرنی اود ځمکو د اصلا حاتو د وزارتونو په مرسته لازم تدبيرو نه نيسي .د

نیاز مند یهای اهالی طور همهٔجانبه استفاده شده میتواند .

**ماده سی ام :**

دریا ها ، کانالها وسایر منابـع آب که برای حمل و نقل و کشتی ـ رانی مساعد باشد بارعایت مقررات مربوط به بهره بر داری از راه ها ی آبی مورداستفاد هقرار گرفته مـــی تواند .

**ماده سی ویکم :**

انتقال چوب از راه آببهٔاساس اجازهنامهٔ وزارت آب و برق بارعایت مقررات مربوط صورت میگیرد .

**ماده سی و دوم :**

آب مورد ضرورت اطفا ئیــه از تمام منابع آب بدون اخذ اجازه به مقدار کافی تامین شده میتواند .

**فصل پنجم**

**حفاظت منابع آب**

**ماد هسی و سوم :**

بمنظور جلو گیری از آلود گی منابع آب وزار ت آب و بــــــرق بهمـــــکا ر ی وزار ت هـــــا ی صحت عامه و زراعت و اصــــلا ـ حات ارضی تدابیر لازمه را اتخـاذ مینماید رعایت این تدابیر از طرف

دغو تدبیرونو پام نیوی داوبودټولو استفاده کوونو له خوا حتمی دی .

**خلور دیرشمه ماده :**

د صنعتی فاضله موادو ، عامه خدمتونو او داسی نورو په واسطه داوبو ککړ ول او ناولی کول ممنوع دی .

**پنځه دیرشمه ماده :**

هغه استفاده کوونکی چی له اوبو نه د صنعتی او معیشتی اړتیاوو د لیری کولو په منظور استفاده کوی مکلف دی چی د استفاده شویو اوبو دچاڼ په هکله داوبو او برېښنا او د عامی روغتیا دوزارت د اورګانونو احکام او دساتیر په پام کی ونیسی او یوازی د نومو ړو اورګانونو په اجازه کولای شی چی د اوبو فاضله داوبو په منابعو کی وبهوی .

**شپږ دیر شمه ماده :**

دځمکی پرمخ او تر ځمکی لاندی اوبود منابعو دساتنی په منظورچی په مرکزی اوبو رسولو کی دوګړو د پاره تر استفادی لاندی راځی ، د دولتی قدرت او اداری دسیمه ایزو اورګانونو له خوا د عامی روغتیااو داوبو اوبریښنا دوزارتونو په موافقه دهماغو منابعو حفظ الصحوی سیمه ټاکل کیږی اود نومو ړی

کلیه استفاده کنندگان آب حتمی میباشد .

**ماده سی و چهارم :**

آلوده و کثیف ساختن آب توسط مواد فاضله صنعتی خدمات عامه وغیره ممنوع است .

**ماده سی و پنجم :**

استفاده کنندگانی که آب را به منظور رفع نیاز مندیهای صنعتی و معیشتی استفاده مینمایند مکلفند احکام و دساتیر اورگانهای وزارت آب و برق وصحت عامه را مبنی بر تصفیه آب استفاده شده رعایت نمایند و تنها باجازه اورگانهای مذکور میتوانند آبهای فاضله را به منابع آب به جریان اندازند .

**ماده سی و ششم :**

بمنظور حفاظت منابع آب سطح زمین و تحت الارضی که در آبرسانی مرکزی برای اهالی مورد استفاده قرار میگیرد از طرف ارگانهای محلی قدرت دولتی و اداره با موافقه وزارتهای صحت عامه و آب و برق ، منطقه حفظ الصحوی همان منابع تعیین و راجع به حدود

سیمی د ممنوعه حدودو او ساحی په هکله وگړو ته خبر ور کول کیږی .

**اوه دیرشمه ماده :**

داوبو دساتنی په غرض د تدبیرونو دتطبیق په کار کی دولتی کنترول داوبو او بریښنا دوزارت په واسطه اود څښلو او معیشتی اوبود کیفیت کنترول دعامی روغتیادوزارت له خوا صورت مومی.

**اته دیرشمه ماده :**

د وزیرانو د شورا د پیښو پر ضد لوی ریاست اود پیښو سره د مبارزی کمیټه د اوبو له زیا تیدو ، د ځمکی دښوئیدو ، سیلاو او نورو ناڅاپی پیښو د مخنیوی او له هغو نه د راپیدا شویو خطر ناکو عواقبو دله منځه وړلو په لاره کی لازم تدبیرونه نیسی .

په دغو حالاتو کی نوموړی اورگانونه کولای شی چی د اوبو د استفاده کوونکو حقوق د پیښو تر لیری کولو پوری محدود کاندی .

**شپږم فصل**

**دلانجو حل او فصل اومسوولیتونه**

**نه دیرشمه ماده :**

په کرنه کی د اوبودویش اوورنه داستفادی دمسئلو په هکله دبزگرانو او نورو وگړو لانجی د میراب باشی یا میراب په واسطه د دواړو

وساحه ممنوعه منطقه مذکور به اهالی اطلاع داده میشود

**ماده سی وهفتم :**

کنترول دولتی در امر تطبیق تدابیر جهت حفظ آب توسط وزارت آب و برق وکنترول کیفیت آب آشامیدنی و معیشتی از طرف وزارت صحت عامه صورت میگیرد .

**ماده سی و هشتم :**

ریاست عمومی ضد حوادث شورای وزیران و کمیته مبارزه با حوادث جهت جلو گیری و از بین بردن عواقب وخیم ناشی ازآبخیزی، لغزش زمین ، سیلاب وسایرحوادث غیر مترقبه تدابیر لازمه را اتخاذ مینماید .

درین حالات اور گانهای مذکور میتوانند حقوق استفاده کنند گان آب راتابر طرف کردن حوادث محدود نمایند .

**فصل ششم**

**حل و فصل منازعات و مسوولیتها**

**ماده سی ونهم :**

منازعات دهاقین وسایر اتباع مبنی بر مسایل توزیع و استفاده از آب در زراعت توسط میراب باشی یا میراب باشتراك طرفین بررسی و

خواو په ګډون حل او فصل کیږی. په هغه صورت کی چی دواړه خوا ـ وی د میراب باشی یا میراب په پر ـ یکړی موافقه ونکړی موضوع د حل او فصل دپاره د بزګرانو کمیټې ته وراندی کیږی .

**خلوېښتمه ماده :**

که چیری له او بو نه داستفادی په هکله د کوپرا تیفو نو . دو لتی فارمونو ، صنعتی او عامه خدمتونو دموسسو ، کسبګرو ، تجار تی او نورو موسسو او ساز مانونو ترمنځ لانجی رامنځ ته‌شی د لاندنیو اور ـ ګانونو په واسطه حل او فصــــل کیږی :

۱ـ دیوی ولسوالی د اوبـو د استفاده کوو نکو ترمنځ لانــجی د هماغی ولسوالی د دولتی قدر ت او اداری دسیمه ایز اور ګان له خوا.

۲ـ دبیلا بیلو ولسوا لیو د اوبو داستفاده کو ونکو ترمنځ لانجی د اوبو اوبرېښنا دوزارت دولایتی‌اور ـ ګانونو له‌خوا د ولایت د دولتــی قدرت او اداری دسیمه ایزو اور ـ ګانونو په موافقه .

۳ـ د بیلا بیلو ولا یتونـــو د استفاده کوو نکو تر منځ لانجـی د اوبو او بریښنا د وزارت له خواد کرنی اود ځمکو د اصلا حاتـــو د وزارت او نورو علاقه لرو نکوورا ـ جعو په موافقه .

حل و فصل میگردد در صور تیکه طرفین بفیصله میراب‌باشی یامیراب موافقه نکنند موضوع جهت حل و فصل به کمیته دهاقین تقدیــــم میگردد .

**ماده چهلم :**

منازعات مبنی بر استفاده ازآب اگر بین کوپرا تیف ها ، فارم های دولتی ، موسسات صنعتی ، خدمات عامه ، کسبه کار ها ، تجار تی و غــــیره موسسا ت و ســـاز ما ن ها بروز نماید توسط اور گانها ی ذیل حل و فصل میگردد :

۱ـ منازعات بین استفاده کننده گان آب یک و لسوالی ازطرف‌اور ـ گان محلی قدرت دولتی و اداره‌همان ولسوالی .

۲ـ منازعات بین استفاده کننده گان آب ولسوا لی های مختلـــف از طرف اور گانها ی ولایتی وزارت آب و بـــــر ق با موا فقـــــه ارگانهای محلی قدرت دولتی واداره ولایت .

۳ـ منازعات بین استفاده کنند ـ گان ولایات مختلف‌از طرف وزار ت آب و برق با موافقه وزار ت زراعت و اصلا حات ارضی وسایر مرا جع ذیعلاقه.

**يو څلويښتمه ماده :**

هغه شخص چې له حق ابۍ نه دناوړه استفادې په نتيجه کې بل شخص ته مالي زيان ورسوي دقانون د حکمونو سره سم درسيد لې زيان په جبران مکلف کيږي .

**دوه څلويښتمه ماده :**

هغه شخص چې عملا د او بو سيستم يا تاسيسات چې د دغه قانون د حکمونو سره سم ودان‌شوي دي ، تخريب يا زيانمن کاندي دجزا دقانون د حکمونو سره سم‌مجازا ت کيږي.

**اوم فصل**

**متفرقه حکمونه**

**دري څلويښتمه ماده :**

د اوبو دمنابعو د محاسبې او استفادې دقيق مسايل ، د اوبو رسولو دسيستمونو وده او پراختيا په زراعت او غير زراعت کې له‌اوبو نه استفاده ، د اوبو ساتنه اوداوبو رسولو او اوبو لګولو د تاسيساتو ساتنه او څارنه د ځانګړو لايحو او مقرراتو په واسطه چې د دغه قانون د حکمونو سره مغايرت ونلري ، تنظيميږي .

**څلور څلويښتمه ماده :**

دغه قانون په رسمي جريده کې له خپريدو وروسته نافذيږي .

**ماده چهل ويکم :**

شخصی که در نتیجه سوء استفاده از حق آبه‌به شخص دیگر ی‌خساره مالی وارد نماید مطابق به احکا م قانون بجبران خساره وارده مکلف میگردد .

**ماده چهل و دوم :**

شخصی که عملا سیستم یا تاسیسات آب را که مطابق‌احکام‌این قانون اعمار گردیده تخریب یا متضرر نماید طبق احکام قانو ن‌جزا مجازات میگردد .

**فصل هفتم**

**احکام متفرقه**

**ماده چهل وسوم :**

مسایل دقیق محاسبه واستفا ده از منابع آب ، رشد و توسعه‌سیستم های آبرسانی ، استفاده از آب در زراعت و غیر زراعت ، حفظ آب ، حفظ مراقبت تاسیسات آبر سانی و آبیار ی توسط لوایح و مقررا ت جداگانه که با احکام این قانون مغایرت نداشته باشد تنظیم می گردد .

**ماده چهل و چارم :**

این قانون بعد از نشر درجریده رسمی نافذ میگردد .

ددغه قانون په انفاذ ســــره د ځمکې په هکله دانقلابی شوراد اتمی ګڼې فرمان د لومړی ګڼې مقررا تو دپنځمې مادی دو همه فقره او(٢٤) ماده او دنورو قوانینو هغه حکمونه چې ددغه قانون د حکمو نو ســره مغایرت لری ،ملغی ګڼل کیږی .

بانفاذ این قانون فقره دو م ما ده پنجم وماده (٢٤)مقررات شماره اول فرمان شماره هشتم شورای انقلابی درباره زمین واحکام سایر قوانیـن که‌با احکام این قانون مغایر ت دارد ملغی شناخته میشود .

## دافغانستان د دموکراتیـــک جمهوریت دوزیرا نو د شورا مصوبه

دوزیران شورا پـــه (۳۱۷۳) گڼې پریکړې کې د ۱۳۶۰ کال د قوس د میاشتې ددیرشمې نیټې په غونډه کې د عدلیې د وزارت د ۱۳۶۰ کال د قوس د میاشتې د دیرشمې نیټې (۲۲۵۷) گڼې عرض پاڼې ته په کتنه لاندې مراتب تصویـــب کړل :

«۱ـ په کرنه‌کې له‌اوبو نه‌د استفادې مقرره په څلورو فصلونو او نه دیرشو مادو کې منظوره ده.

۲ـ د اوبو او بریښنا او د کرنې او د ځمکو د اصلاحاتو وزارتونه مکلف دي چې‌دنوموړې مقررې دقیق اوبې انحرافه پلې کول تامین کاندې.

۳ـ د دولتي‌قدرت‌او اداري سیمه‌ایز اورگانونه‌مکلف‌دي چې دبزگرانو سره دکرنې په چارو کې داوبو په عادلانه ویش او استفادې او داوبود استفاده کوونکو د لانجو په حل او فصل کې د دغې مقررې دحکمونو سره سمه مرسته وکړي .

۴ـ داطلاعاتو او کلتور وزارت دې درادیو اوتلویزیون اوډله ایز ارتباط د نورو وسایلو له لیارې د دموکراتیکو اصولوپر مبنا دنوموړې مقررې محتویات توضیح او د کرنې

## مصوبه شورای وزیران جمهوری دموکراتیک افغانستان

شورای وزیران‌تحت فیصله‌شماره (۳۱۷۳)درجلسه‌تاریخی ۳۰ر۹ر۱۳۶۰ به ملاحـظه ورقه عرض شمـــاره (۲۲۵۷) مورخه ۳۰ر۹ر۱۳۶۰وزارت عدلیه مراتب آتی را تصویب نمود:

«۱ـ مقرره‌استفاده‌از آب درزراعت به‌داخل چهار فصل و سی و نه ماده منظور است .

۲ـ وزارت های‌آب‌وبرق و زراعت واصلاحات ارضی مکلف اند تطبیق دقیق وبلاانحراف‌مقرره‌مذکوررا‌تامین نمایند .

۳ـ ارگانهای محلی قدرت دولتی واداره مکلف است به دهاقین در توزیع و استفاده عادلانه آب درامور زراعت‌و حل و فصل منازعـــات استفاده کنندگان آب مطابق بـــه احکام این مقرره مساعدت نماید .

۴ـ وزارت اطلاعات و کلتور از طریق رادیو و تلویزیون و سایـــر وسایل ارتباط جمعی‌محتویات مقرره مذکور را مبنی بر اصول دموکراتیک

داړتیا وو د لیری کولو د پاره له اوبو نه اغیزمنه استفاده په پراخه تو گه تبلیغ کاندی .

۵ـ دغه مقرره په رسمی جریده کی له خپریدو وروسته نا فذه ده.»

**سلطانعلی کشتمند**

**دوزیرانو د شورا رئیس**

توضیح واستفاده موثر ازآب راجهت رفع نیاز مندیها ی زراعتی وسیعا تبلیغ نماید .

۵ـ این مقرره بعد از نشر در جریده رسمی نافذ می باشد.»

**سلطانعلی کشتمند**

**رئیس شورای وزیران**

په کرنه‌کی له‌اوبونه داستفادی‌مقرره

لومړی فصل

عمومی حکمونه

**لومړی ماده :**

دغه مقرره د اوبو د قانون د(٤٣) مادی سره سمه په کرنه‌کی‌له‌اوبونه داستفادی د تنظیم په منظور وضع شویده .

**دوهمه ماده :**

د کرنی د اړتیا وړ اوبه له اوبونه داستفادی دپلان او همدارنگه دځمکی دملکیت او حقابی په هکله د باور وړ سندونو پر اساس دسیمی دعرف اودودونو سره سم استفاده کوونکو ته ورکولی کیږی .

**دریمه ماده :**

له اوبونه دپلان سره سمه‌استفاده داستفاده کوونکو تر منځ د هغـــی عادلانه ویش او دتراوبولگو لو لاندی ځمکو اغیز منه استفاده تامینوی.

**څلورمه ماده :**

په دغه مقرره کی‌لاندی اصطلاحات لاندینی معناوی لری:

۱ـ له اوبو نه‌استفاده : دمستحق شخص په واسطه د کر نی د اړتیاوو دلیری کولو د پاره له اوبو نـــــــه استفاده .

مقرره استفاده از آب در زراعت

فصل اول

احکا م عمومی

**ماده اول :**

این مقرره مطا بق حکم ماده (٤٢) قانون آب ، به منظور تنظیم استفاده از آب در زراعت وضع گردیــــده است .

**ماده دوم :**

آب مورد نیاز زراعت با ساس پلا ن استفاده از آب و همچنـــان اسناد مدار حکم در مورد ملکیت‌زمین وحقا به مطابق عرف و عنعنات محل بدسترس استفاده کنندگا ن قرار داده می شود .

**ماده سوم :**

استفاده از آب طبق پلان، توزیع عادلانه آنرا در بین‌استفاده کنندگان واستفاده مؤثر زمینهای تحت آبیاری را تامین می کند.

**ماده چهارم :**

درین مقرره اصطلا حات آتی‌معانی ذیل را دارد :

۱ـ استفاده از آب : استفاده از آب توسط شخص مستحق جهت رفع نیاز مندی های زراعت .

۲ـ د اوبو لگولو سیستم : داوبو لگولو د تاسیسا تو مجموع چی دهغو په واسطه د او بو لگولو په چاروکی دبزگرانو ، کوپراتیفو نو ، دو لتی فارمونو او د ځمکی د نوروا ستفاده کوونکو اړتیاوی لیر ی کیږی .

۳ـ د اوبو لگو لو رژیم : داوبو لگولو د وختونو ، مودی ، اندازی او داوبو لگولو د نورمونو په تفکیك د اوبو لگولو ددفعا تو شخه مشتمله د اوبولگو لودمشخصا تو او تکنولوجی مجموع .

٤ـ د اوبو لگولو نورم : دتراوبو لگولو لاندی دیوه جریب ځمکی د اړتیا وړ او بو هغه مقدار چی د کر نی دټاکلی نبات د پاره د اوبو لگولو په یوه پلاکی اود کر نی د ټاکلی نبات د ټوکیدو او ودی په دوره کی لازم دی .

## دو هم فصل

## داوبو ویش

### پنځمه ماده :

هغه شخص له اوبو نه د اوبـــو لگولو په مقصد استفاده کولای شی چی د هغه د اوبو لگو لو ساحه او حقابه په مربوطو سندو نو کی تثبیت او د سیمی د عرف او دودونو سره سمه وی .

### شپږمه ماده :

داوبو لگولو د اړتیا وړ او بومقدار دکښت تر لاندی سا حی ، د نبات د

۲ـ سیستم آبیاری : مجموع تاسیسات آبیاری که توسط آن نیاز ـ مندی دهاقین ،کوپرا تیفها، فارم‌های دو لتی و سایر استفاده کنندگـــان زمین در امور آبیاری مرفوع مـــی گردد.

۳ـ رژیم آبیاری: مجموع مشخصات وتکنو لوجی آبیاری مشتمل بر تعداد ودفعات آبیا ری به تفکیك او قات، مدت و اندازه آبیاری و نورم های آبیاری .

٤ـ نورم آبیاری : مقدار آب مورد ضرورت یك جریب زمین تحت‌آبیاری برای نبات معین زراعتی دریك‌مرتبه آبیاری و طی دوره نشو نما ی نبات معین زراعتی لازم می باشد .

## فصل دوم

## توزیع آب

### ماده پنجم :

شخصی از آب به مقصد آبیاری استفاده کرده می تواند که استحقاق ساحه آبیاری و حقابه او در اسناد مربوطه تثبیت و مطا بق به عرف‌و عنعنات محل باشد .

### ماده ششم :

مقدار آب موردضرورت آبیاری‌با درنظر داشت ساحه‌تحت کشت، نوع

ډول ، د اوبو لګولو د رژیم، دحقابی دسند، د سیمی دعرف‌او داوبولګولو په منبع کی د اوبو دشته وا لی د اندازی په‌پام‌کی‌نیولوسره‌ټاکل کیږی

**اومه ماده :**

د اوبو لګولو له سیستمو نو نه‌د اوبو استفاده د هما غه سیستم داوبو داستفادی او ویش د پلانو نو پـر اساس چی د اوبو او بر ښنا اود کر نی او د ځمکو د اصلا حا تود وزار تونو د منظوری شوی کړنلاری سره سم طرح کیږی ، صورت مومی.

**اتمه ماده :**

د کر نی د نبات د پاره د اوبو لګولو نورم د کرنی او د ځمکو د اصلا حاتو او داوبو او بریښنا د وزارتونو له‌خواترتیب اومنظوریږی.

داوبو لګو لو د منظور وشویـــو نورمونو دنشتوا لی په صورت کـی له‌هغو نورمونو نه‌استفاده کیږی چی‌د سیمی د عرف او دودونو سره سمون ولری .

**نهمه ماده :**

داوبو د کمښت په کلونو کی د اوبو او بر یښنا د وزارت اورګانونه دکر نی او د ځمکی د اصلا حاتو د وزارت په موافقه او د میراب باشی او میرابانو په ګډون د اوبو د نـوی ویش په هکله د ټاکلی زراعتی نبات داوبو لګولو د لومړ یتو ب د حق په

نبات ، رژیم آبیاری ، سند حقا به، عرف محل و اندازه مو جود یت آب در منبع آبیاری تعیین می گردد.

**ماده هفتم :**

استفاده آب از سیستم آبیا ری باساس پلانهای استفاده و توزیع‌آب همان سیستم که طبق دستور العمل منظور شده وزارت های آب و برق وزراعت و اصلا حات ارضی طرح می شود صورت می گیرد .

**ماده هشتم :**

نورم آبیاری برای نبات زراعتی‌از طرف وزارت های زراعت و اصلاحات ارضی و آب و برق ترتیب ومنظور می گردد .

در صورت عدم مو جود یت نورم های آبیاری منظور شده از نورم‌های که به عرف و عنعنات محل مطا بقت داشته باشد استفاده می گردد.

**ماده نهم :**

در سالها ی کم آبی اورگا نهای وزارت آب وبرق با موافقه وزار ت زراعت و اصلا حات ارضی وبـــا اشتراك میراب باشی و میراب ها در مورد توزیع مجدد آب بادرنظر داشت حق اولیت آبیاری نبات‌معینه زراعتی

پام کی نیو لو سره پخپل وخت لازم تدبیرو نه‌نیسی .

**لسمه ماده :**

که چیری د اوبو لگو لوسیستم‌د اوبو له نوی‌منبع څخه‌په گټه‌اخیستنه پیل وکړی په دغه صورت کی تر نوموړی سیستم لاندی ځمکی په داوبو لگولو دهماغه منبع تر سیستم لاندی ځمکه تعدیلیږی او مر بوطه بدلو نو نه د ځمکی‌د ملکیت په رسمی سند او د مالیی په دفتر و نو کی ثبتیږی .

**یوو لسمه ماده :**

که چیری‌للمی ځمکی د اوبولگولو له هغو تا سیسا تو نه په استفاده چی د کوپرا تیفو نو او بزگرانو په لگښت ودان شوی دی په تراوبو لگو لو لاندی ځمکو تعد یل شی، دغه شان تعد یل د کو پرا تیفو نو اوبزگرانو په لاس کی د ځمکی ساحات نه کموی .

دهغو شرایطو پر اساس‌چی ددغی مادی په لومړی فقره کی پیشبینی شویدی ، کو پراتیفو نو او بزگرانو ته داوبو د قانون د (۲۵) مادی‌دحکم سره سم ما لیا تی امتیازات ور کولی کیږی .

**دو لسمه ماده :**

للمی او شړه ځمکه په هغه صورت کی داوبو لگو لو د مو جوده سیستم

عندالموقع تدا بیر لازمه اتخاذ می دارد .

**ماده دهم :**

هرگاه سیستم آبیاری از منبع جدید آب شروع به بهره برداری نماید در اینصورت زمین های تحت سیستم مذکور به زمین‌تحت سیستم همان منبع آبیاری تعد یل گردیده وتغییرات مر بوطه در سند رسمی ملکیت زمین و دفا تر ما لیه ثبت‌می گردد .

**ماده یازدهم :**

هرگاه زمین های للمی با استفاده از تاسیسات آبیاری ایکه به مصرف کوپراتیف ها و دها قین اعمار شده به‌زمینهای تحت آبیاری تعدیل گردد همچو تعد یل سا حات زمین دست داشته کو پراتیف ها و دها قین را تقلیل نمیدهد .

با ساس شرایطی که درفقره اول ماده هذاپیشبینی گردیده به کو پرا تیف ها و دها قین مطا بق حکم ماده (۲۵) قانون آب امتیازات مالیا تی داده می شود .

**مـاده دوازدهم :**

زمین للمی و بایر در صور تی‌از آب سیستم مو جوده آبیاری استفاده

له اوبو نه استفاده کولای شی چی په نوموړی سیستم کی د اوبو او بریښنا او د کرنی او ځمکو داصلاحاتو دوزارتونو د اورگانو د تصدیق سره سمی مازاداوبه موجودی وی

**دیار لسمه ماده :**

ژرندی او غیر زراعتی تولیدی موسسات خپلی داړتیا وړ اوبه په لاندنیو حالاتو کی له اصلی او فرعی کانالونو څخه اخیستلای شی :

۱- په کانال کی باید مازاد اوبه موجودی وی .

۲- تراوبو لگولو لاندی ځمکی او مسکونه سیمی باید زیانمنی نکړی .

۳- د څښلو او به باید ککړی نکړی او د اوبو لگولو د اړتیا وړ اوبو کیفیت ته تغییر ورنکړی .

۴- د اوبو او بریښنا د وزارت داورگانو نو اجازه لیك او د کرنی اود ځمکو د اصلاحاتو د وزارت داورگانونو موافقه باید موجوده وی.

**څوار لسمه ماده :**

که چیری د ولایت د اوبو لگولو دسیستم سر بند له هغی منبع نه سر چینه واخلی چی له اوبو نه یی دهما غه ولایت دپاره استفاده وشی داوبو ویش د پلان سره سم د اوبو اوبریښنا د وزارت د ولایتی اورگان په واسطه صورت مومی .

نموده می تواند که در سیستم مذکور طبق تصدیق اورگانها ی وزارت های آب و برق وزراعت و اصلاحات ارضی آب مازاد موجود باشد .

**ماده سیزدهم :**

آسیاب و موسسات تولیدی غیر زراعتی ، آب مورد ضرورت خویش را از کانال های اصلی و فرعی در حالات ذیل اخذ کرده می توانند:

۱- در کانال آب مازاد موجود باشد .

۲- زمینها ی تحت آبیاری و مناطق مسکونه متضرر نگردند.

۳- آب اشامیدنی راآلوده نساخته وکیفیت آب مورد ضرورت آبیاری را تغییر ندهد .

۴- اجازه نامه اورگانهای وزارت آب و برق با موافقه اورگانها ی وزارت زراعت و اصلاحات ارضی موجود باشد .

**ماده چارد هم :**

هر گاه سر بند سیستم آبیاری ولایت از منبعی سر چشمه گیرد که از آب آن برای همان ولایت استفاده شود توزیع آب طبق پلان توسط اورگان ولایتی وزارت آب و برق صورت می گیرد .

**پنځلسمه ماده :**

که‌چیری د اوبولګولو منبع ددوویا له‌دوو نه‌دزیاتو ولایتو نوتر استفادی لاندی وی، داوبو ویش د اوبو او بریښنا دوزارت له لیاری د کرنی‌او دځمکو د اصلا حا تو دوزارت پـــه موافقه د هر ولایت له اوبو نه د استفادی د پلا نونوپر اساس صورت مومی .

**شپاړسمه ماده :**

داستفاده کوو نکو تر منځ داوبو له‌ویش نه را ولاړی شوی لانجی د اوبو د قانون د (۳۹ـ۴۰) موادو د حکم سره سمی حل او فصل کیږی.

## دریم فصل

## داوبو لګو لو دسیستمونو اداره

**اولسمه ماده :**

داوبو لګو لو هغه سیستمو نه‌چی ساتنه او څارنه‌یی‌د دولتی اورګانونو په‌واسطه صورت مومی،د اوبو زیرمی دسر بند او دهغه ملحقاتو ،د اصلی کانال او د هغه د تاسیسا تو او د اوبو لګولو دسیمو داوبو ویش د ساتنی اوڅارنی اداره‌یی‌دا وبو لګولو دهما غه سیستم په اداری پـــوری مربوطه ده .

**اتلسمه ماده :**

داوبو لګو لو د سیستم دترمیم او اصلاح ضروری کارو نه د هماغه

**ماده پانزدهم :**

هر گاه منبع‌آبیاری مورد استفاده دو ویا بیشتر از دو ولایت باشد توزیع آب از طریق وزارت آب وبرق باموافقه وزارت زراعت و اصلا حات ارضی باساس پلانها ی استفاده از آب هر ولایت صورت می گیرد.

**ماده شانزد هم :**

منا زعات ناشی از توزیع آب بین استفاده کنندگان مطا بق حکم مواد (۳۹و ۴۰) قانون آب حل و فصل می گردد .

## فصل سوم

## اداره سیستم های آبیا ری

**ماده هفدهم :**

سیستم آبیاری که حفظ ومرا قبت آن‌توسط اورگانهای دو لتی صورت می گیردادار‌ه وحفظو مراقبت مخازن آب سر بند با ملحقات‌آن کانال‌اصلی باتاسیسات آن و دهنه توزیع آب مناطق آبیاری،مربوط به اداره آبیاری همان سیستم می باشد .

**ماده هجدهم :**

کار های ضروری ترمیم و اصلاح سیستم آبیاری با پیشبرد امـــور

سیستم په سا حاتو کی د کرنی د
چارو دپر مخ‌بیو لو سره صور ت
مومی او د اوبو لگو لو د سیستم‌او
ساحاتو له او بو نه د استفادی د
پلانونو د ترتیب په وخت کی دغـه
کار په پام کی نیول کیږی .

**نو لسمه ماده :**

هغه کانا لو نه دهغو دمربوطـــو
تاسیسا تو سره چی د اوبو د ویش
له دهنی نه‌ښکته‌پرانه دی، دزمینداری
په‌هغو ساحا تو کی شامل دی چی‌له
هغو نه او به کیږی او د اوبو لگولو
دفنی مامور یاد تر او بو لگولو لاندی
ساحا تو د میراب په واسطه یـــی
څارنه کیږی..

**شلمه ماده :**

د تر او بو لگو لو لاندی ساحا تو
له اوبو نه د استفادی پلان د اوبـو
لگولو د فنی مامور یا میراب له خوا
داوبو او بر یښنا او د کر نی اود
ځمکو اصلاحا تو د وزار تو نود
منظوری شوی لایحی سره سم دکرلو
دساحی ،داوبو لگولو د نورم ، دنبات
دډول او نورو هغو عوا ملو په پام
کی نیو لو سره چی د اوبو پرلگښت
اغیزه لری د اوبواو بر یښنا دوزارت
دسیمه ایزو اورگا نونو په مرسته
تر تیبیږی .

**یو ویشتمه ماده :**

دولایت داوبو لگولو اور گانو نه

زراعتی در سا حات همان سیستم
صورت گرفته حین تر تیب پلانها ی
استفاده از آب سا حات و سیستم
آبیاری این امر در نظر گر فتـــه
می شود .

**ماده نزدهم :**

کانالها با تا سیسات مربوطه آن
که‌پایان تر از دهنه توزیع آب قرار
دارد شامل سا حات زمینداری می
باشد که از آن آبیاری‌می‌شود توسط
مامور فنی آبیاری یا میراب ساحات
تحت آبیاری مراقبت می گردد .

**ماده بیستم :**

پلان استفاده از آب سا حـات
تحت‌آبیار ی‌ازطرف مامورفنی آبیاری
یامیراب طبق لایحه‌منظورشده وزارت
های‌آب‌وبرق‌و زراعت و اصلا حات
ارضی با در نظر داشت سا حه بذری
نورم آبیاری ، نوع نبات‌و سایـــر
عواملیکه در مصرف آب تا ثیر دارد
بامسا عدت اورگانها ی محلی وزارت
آب وبرق تر تیب می گردد .

**ماده بیست و یکم :**

اورگانها ی آبیاری ولا یت پلان

# رسمی جریده

داوبو د ویش عمومی پلان د اوبو او برېښنا او د کرنې او د ځمکو د اصلاحاتو د وزارتو نو د منظور ی شوی لایحې سره‌سم‌داوبو په منابعو کې د اوبو دبهیر دمقدار په پام کې نیو لو سره تر تیبوی او داوبو لګولو دموسم له پیل نه یې یوه میاشت پخوا د تصویب د پاره د ولایت مقام ته وړاندې کوی .

عمومی توزیع آب را طبق‌لایحه منظور شده وزارت های آب‌و برق وزراعت واصلاحا ت ارضی با در نظر داشت مقدار جریان آب درمنا بع آب، ترتیب ویکماه قبل از شروع مو سم آبیاری جهت تصو یب به مقا م ولایت ارائه میدارد .

**دوه ویشتمه ماده :**

داوبو لګولو په سیستم کې داوبو دویش پلان ، لکه‌داوبو لګولو ساحات داوبو لګولو اندازه او نورم او داسې نور له دریو نه تر پنځو کلونو دمودی دپاره طرح کیږی . په دغه پلان کې جزیی تعدیلات را منځ ته کیدلای‌شی.

**ماده بیست و دوم :**

پلان توزیع آب در سیستم آبیاری از قبیل سا حات تحت آبیاری،اندازه ونورم آبیاری و امثال آن برای مدت سه الی پنج سا ل طرح می گردد. درین پلان تعد یلات جزیی به عمل آمده می تواند .

**درویشتمه ماده :**

داوبو او برېښنا دوزارت داوبو لګولو د ولایتی اورګانونو عمده دندی عبارت دی له :

۱ـ د اوبو د منا بعو مطا لعه او سروی او څارنه یې .

۲ـ د اوبو لګو لو له تاسیسا تو نه داستفادی د حق تثبیت.

۳ـ داوبو د ویش د کلنیو پلانونو طرح .

٤ـ د اوبو له منا بعو او داوبو لګولو لـه تاسیساتو نه د اغیز منې استفادی څارنه .

**ماده بیست و سوم :**

وظایف عمده اورګان های آبیاری ولایتی وزارت آب و برق عبارتنداز:

۱ـ مطا لعه و سروی منا بع آب‌و مراقبت از آن .

۲ـ تثبیت‌حق‌استفاده ازتاسیسات آبیاری .

۳ـ طرح پلانهای سا لانه توزیع آب .

٤ـ مرا قبت استفاده مؤثر از منابع آب و تاسیسات آبیاری.

۵ـ دکار د حجم تثبیت او د اوبو لگو لو د مربوطه سیستم په ډله‌ایز کار کی د ځمکی د استفاده کوو نکو دبرخی اخیستنی د پلا نونو ترتیب.

۶ـ دوزایرانو د شورا د پیښبود ضد ریاست په مرسته د سیلا ـ وونو ، د اوبو د زیا تیدو او ناڅاپی پیښو پر خلاف د مبارزی په منظور ډله ایزو کار و نو ته ساز مان ورکول

۷ـ دمربوطه ولایت د اوبو لگولو دسیستم د اداری چارو کنترول.

۸ـ داوبو لگو لو د پرا ختیا په لاره کی د تدبیرو نو نیو ل .

